سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۱ / ۱۱ / ۲۲

# د رباني مرګ ، د جمعيت او نظارشورا ځنکندن

برهان الدين رباني چې ايران کې د اسلامی ويښتيا کنفرانس کې له ګډون روسته، د روان کال د سيپټمبر په ۱۸ مه د پلازمينې کابل په وزير اکبرخان کې ووژل شو، په حقيقت کې د نظارشورا او جمعيت سمتې، سياسي او معنوي سرلار او پلارګڼل کيږی. د رباني په مرګ، نوموړو ډلو خپل داسې يو څوک له لاسه ورکړ چې بيا ميندل يې ورته ناشونې او يتيم توب به يې تلپاتې وي.

رباني په ۱۹۴۰ کال د بدخشان په فيض اباد کې زيږيدلی و. په ختّه تاجک او لومړنۍ زده کړې يې په خپل کلي، منځنۍ او لوړې زده کړې يې په کابل کې ترسره کړی وې. ماسټري يې د مصر د الاظهر پوهنتون څخه اخيستې او روسته بيا افغانستان ته راستون شوی. **کابل ته له رسيدو روسته يې د سيکولر سياستونو او سمونونو سره چې ټولواک محمد ظاهرشاه يې پليتوب غوښته، کلک مخالفت څرګند کړ.**

په همدې موخه يانې د سيکولريزم يا په مذهب د نه ولاړ سياست په وړاندې يې په ۱۹۷۱ کال، د اسلامي جمعيت بنسټ کيښود او د غلام محمد نيازي روسته په دغه ګوند کې دوهم کس وګڼل شو. د نيازي له مرګ روسته د ژوند تر پايه د دغه ګوند مشر پاتې شو. وروسته له هغه چې سردار محمد داوودخان په افغانستان کې د واک په ګدی کيناست، برهان الدين رباني پاکستان ته وتښتيد او د هغه وخت افغان حکومت پر وړاندې يې جګړه راپيل کړه. نوموړی هغه مهال وکولای شول چې خپل ګوند د پاکستان له لارې په **وسلو او پيسو** ښه سمبال کړي.

رباني د نظارشورا او جمعيت يو داسې مشر و چې يو خوا يې ستميانو او د هيواد په شمال کې د سيکټاريستو ډلو سره په ګډو فعاليتونو کې برخه درلوده او په دوی کې يې د پيوستون سا پوکوله او بلخوا يې په توندو مذهبي انديښنو سره په افغانستان او سيمه کې د سخت دريځه مذهبي پلويانو سره د پان اسلاميزم ناره توده ساتله. نوموړي د سيکټاريزم په جبهه کې د روسيي، ايران او نورو ملاتړ ته سترګې نيولې وې او د پان اسلاميزم په جبهه کې بيا د پاکستان او نړۍ د عرب او عجم د مذهبي سخت دريځو له ملاتړ برخمن و .

ده له مرګه يوازې څو ورځې مخکې په ايران کې چې هلته د اسلامي ويښتيا په نوم کنفرانس کې د ګډون لپاره تللی و، د کنفرانس وياند ته وويل: « دکتر ولايتي را به عنوان دبير اين همايش مورد خطاب قرار داد و افزود: اميدواريم دبيرخانه‌اي براي مشورت در مسائل اسلامي و مشکلات جامعهٔ اسلامي ايجاد شود تا به **تمام جنبش‌ها مشورت** دهند. له Fars News Agency څخه»

همدارنګه رباني د ژوند تر روستيو ورځو پورې پاکستان کې هم د مذهبي سخت دريځو سره خپلې اړيکې خورا تودې وساتلې. په دې اړه له رسنيو سره په خبرو کې قاضي حسين احمد وايي « ده په لومړي ځل په ۱۹۷۰ کال کې له برهان الدين رباني او د کابل پوهنتون له دوو شاګرانو سره وکتل او هغه وخت ښاغلی رباني تر شپږو مياشتو پورې د ده ميلمه و. حسين احمد له دې رازه هم پرده پورته کړه چې د هغه وخت پاکستاني لومړي وزير ذالفقار علي بوټو برهان الدين رباني سره وکتل او ده ته يې پناه ورکړه چې پاکستان کې واوسيږي او د داوود خان د حکومت پر ضد فعاليت وکړي.

د پاکستان د جماعت اسلامي ګوند مشر زياتوي، روستيو څو ورځو کې نوموړي بيا له برهان الدين رباني سره کتلي و او دا يې سره ويلي وو چې د ده په وينا په افغانستان کې بايد د امريکايي يرغل د پای لپاره لار ومونډل شي او له پاکستان سره اړيکي خوږې شي.

قاضي حسين احمد د برهان الدين رباني له خولې دا هم وايي چې افغانستان د پاکستان پر ضد او له هند سره ملګرتيا نه شي کولای او نه به هند کله دې ته پريږدي چې د پاکستان پرضد کوم ګام واخلي. تاند »

خو اوس چې رباني نور د سيمې د مذهبي سخت دريځو او په افغانستان کې د نظارشورا او جمعيت په منځ کې نشته، نشتون يې په هيواد کې دې ډلو لپاره يوه لويه تشه ګڼل کيږي. د رباني له مرګه روسته به دا ډلې خپل منځ کې د مشرتوب لپاره يو بل پسې چاکوګان باسي او وزلوبه به چې لا پخوا پيل شوې نوره هم د ننداريِ وړ وګرځي.

نن سبا جمعيت او نظار شورا، څلور يا پنځه ټوټې شوېده. د رباني له مرګه څو اوونۍ روسته د هغه زوم ضيا مسعود، د هزاره ګانو د يوې توند لارې ډلې د مشر محقق او همدارنګه د ازبکو د يوې ډلګۍ د مشر عبد الرشيد دوستم سره په يوه جلا ټلواله کې يوځای شوي. که څه هم دغسې ټلوالې د دوی په منځ کې اوږد تاريخ لري او ټينګې نه وي خو بيا هم د رباني له مرګه روسته په جمعيت کې هغه د کشش قوه نه ده پاتې چې له مرکزه د کادرونو او نيمه مشرانو د تيښتې مخه ونيسي. ويل کيږی چې دوی سره د پدرام په نوم يو جنجالي ستمی چې ځان د افغان پر ځای افغانستانی بولي او د افغانستان د لوړتيا پرځای د هغه په ويش او ذلت خوښ دی او ايران سره په نږدې اړيکو تورن دی ، هم په لومړيو


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

ورځو کې ملګرى و خو اوس ترې جلا شوى دى. دا ټلواله وايي « موږ غواړو، چې په افغانستان کې يوه منظمه سياسي ټولنه جوړه شي. منظمه سياسي ټولنه په دې معنې، چې د هېواد هر اوسيدونکى د سياست په بهير کې د سياسي برخې اخيستنې حق ولري. ترهغې، چې د هيواد هر اوسيدونکى په ديموکراتيکه توګه په سياسي بهير کې د برخې اخيستنې له حق څخه برخمن نشي، په هېواد کې يوه منظمه ټولنه نشي جوړېدى. احمدضيا مسعود د افغانستان د ملي جبهې يا نوي ايتلاف د مشرپه توګه وټاکل شو.»

دې ټلوالې په ځان د ملي جبهې نوم ايښې، خو له ترکيب څخه يې څرګنديږي چې يوازې د افغانستان په شمال کې د درې قومونو څو شميرلي کسان ورسره دي او فعاليت به يې هم په همدې درې څلور ولايتونو کې محدود وي او هيڅکله به د ملي او سراسرۍ جبهې کچې ته پورته نه شي. د ملي سراسري ګټو پرځاى د هيواد په يو سمت او قومي تنګه کړۍ ډډه لګول، هغه هم د سوداګرۍ په موخه هيڅکله ديموکراتيکه او ملي تګلار نه شي ګڼل کيداى.

بله ډله د عبدالله عبدالله ده. نوموړي لا پخوا د امرالله، نجيب کابلي او نورو جمعتيانو سره د اميد او تغيير په نوم يوه ډله ټپله جوړه کړې. دا ډله له نورو څخه احمدشا مسعود ته ځان نږدې او اصيل بولي. د همدې اصيلتوب په دعوه يې تيره اوونۍ کابل کې يوه غونډه جوړه کړې وه « د تغيير او اميد په نوم د ډاکټر عبدالله په مشرى ايتلاف د يو شمير سياسى مشرانو په ګډون خپل مخالفت، د افغان حکومت لخوا د لوى جرګې له جوړيدو سره اعلان کړ. »

دې ټلوالې په ولسمشر کرزى دا نيوکه درلوده چې ولې د لويي جرګې له لارې د افغان ولس سره سلا او مشوره کوي. دغه ډله اصلاً د لوى جرګې له نوم او دود څخه کرکه لري او د اوبو خړولو لپاره پلمې لټوي او غواړي پخپل دې ملي ضد سياست نور سادګان هم تېرباسي.

د قانوني په اړه ويل کيږى چې هغه له پخوانه د ضيا مسعود، احمدولي مسعود او عبدالله سره د احمدشا مسعود څخه د پاتې شتمنيو د ناعادلانه ويش او واک پر سر ژور خپګان لري. نوموړى چې د ولسې جرګې غړى دى، اوس لکه ماښامي ښاپيرک په تياره کې فعال وي او د ولسې جرګې په شا کې په هڅو بو خت او دننه ولسې جرګه کې مړاوى څرګنديږي.

د مزار فرعون عطامحمد نور بيا په دې اند دى چې « که حکومت تګلار بدله نکړي ( مجاهدين ) به بيا وسلې را واخلي.»

نوموړي د عبدالله عبدالله دې څرګندونو ته په اشارې چې له طالبانو سره دې د سولې خبرې سملاسي بندې شي، وايي « د هغه خبرې بيلې انګيرنې لري، هغه ځانته دريځ لري. له شرايطو هرڅوک ځانته انګيرنه لري.» نوموړى د رباني له مرګه روسته د جمعيت مشري خپل استحقاق ګڼي او په دې اړه به د پراخې وزلوبې ډګر ته راوځي.

د قسيم فهيم په اړه هم جمعيتيان بلا بيلې اندېښنې لري. ډاکټر مهدې چې له نومګړو جمعيتيانو څخه ګڼل کيږي وايى، کرزي او فهيم له پخوا څخه اړيکې درلودې.

"روابطي ميان مارشال فهيم و آقاي کرزي از مدتي به اين سو شروع شده بود و اين روابط بالاخره منتهي به اين شد که يک بار ديگر مناسبات را از نو تامين بکنند؛ علي رغم فراز و نشيب هايي که در مناسبات قبلي شان پيش آمده بود».

داکتر مهدي زياتوي « مارشال فهيم خواسته است با اين اظهارات خود نهايت خلوص نيت خود نسبت به کرزي را نشان دهد. برعلاوه داکتر مهدي به نکته ديگري نيز اشاره مي کند، اومي ګويد:

مارشال فهيم و آقاي حامد کرزي، اگر نه مستقيماً، از طريق غيرمستقيم از طريق برادران شان، به اصطلاح وجوه اشتراک اقتصادي دارند، مشارکت هاي اقتصادي دارند، داد و ګرفت ها و معاملات شرکت هاي مشترک دارند، برادران شان.»

جمعيتيان دا خبره « پيوستن مارشال فهيم به کرزى، انشعاب در جبهه ملي» نوره له چا نه پټوي.

همداراز د جمعيتيانو بله سته اسماعيل خان به هم په جمعيت کې د ضيا مسعود، عطامحمد نور او عبد الله عبدالله مشري ونه مني او هغه به تل پشان پر خپل خره سپور پاتې شي.

بلخوا دا څلور پنځه ډلې به بيا هم په دې بڼه پاتې نشي او په نورو کوچنيو ډلو به وويشل شي.

د رباني او مسعود له مرګه روسته جمعيت او نظارشورا پخپله زړه بڼه، نوره د خپلو پلويانو لپاره د منلو وړ نه ښکاري. د سيکولريزم سره ضديت او يا د پان اسلاميزم لپاره سربښندنه چې د رباني په ژوند د جمعيت ځانګړتيا وه، د جمعيت د ځوان نسل لپاره ګټه نه لري. همدارنګه د مسعود انديښنې چې د سخت دريځي مذهب تر څنګ، په شمال کې د هيوادوالو څخه په پټه د هيواد پاشلو ته په نښه شوې وي، ولسونو کې د ويښتوب په لامل نور خپل ارزښت له لاسه ورکوي.

بلخوا د نظارشورا او جمعيت پلويان او اوسني نيمه مشران چې اوس په نورو سوداګريو او معاملو بوخت دي، هغه ګټې چې په لوى افغانستان کې ترلاسه کولاى شي، د هيواد په يوه برخه کې هغه هم د خپلو پخوانيو انديښنو پر بنسټ نه شي ترلاسه کولاى.

که د ضيا مسعود په مشرۍ په اصطلاح ملي ټلواله غواړي ملي واوسي او ملي پاتې شي، بايد د پنجشير، تخار، مزار او باميانو له کوڅو څخه د لوى افغانستان په لور راووځي. نوم پر ځان ملي ټلواله ايښودل او په عمل کې د افغانستان د دريو قومونو په يو شمير وګړو ډډه لګول، په سياست کې پر ځان له ملنډو وهلو پرته بله مانا نلري.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بلخوا د عبدالله عبدالله ډلګی ځان د امید او تغییر په نوم راپیژني، خو دوی دا تغییر یوازې د افغانستان په شمال کې غواړي او د تغییر د څرنګوالي په اړه حتی په شمال کې خپلو پلویانو ته هم ښکاره خبره نه شي کولای . دوی د هیواد په نورو برخو کې د کوم مثبت تغییر لپاره کړنلار نلري او په دې اړه کوم « امید ! » هم نلري.
د افغانستان ملي ګټې په دې کې پرتې دي ټول هغه تنظیمونه او ډلې چې، د سمت، قوم، ژبې، مذهب پر بنسټ او په تیره بیا په پاکستان او ایران کې رامنځته شوي او اوس هم وسلوال ګروپونه لري، باید منحل شي. ګوندونه او ټلوالې باید د هیواد او افغان ملت د ملي او سراسري ګټو پر بنسټ جوړې شي.
داسې ملي ګوندونه او ټلوالې به چې د دیموکراتیک نظام منځړی جوړوي د ولسونو د باور وړ وګرځي .

پای

اخځونه :
بېلا بېلې بریښنا پاڼې
.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ